پوهندوی آصف بهاند

# د ډنمارکي پوه «فین تیسین»
# ژوند ته یو ځغلند نظر
(Finn Vilhelm Thiesen)



د ډنمارک، ډنمارکي ټولنې او ډنمارکي فرهنګ د پېژندنې په لړ کې نن د ډنمارک د یو داسې فرهنګي شخصیت او عالم په باب خبرې کوم چې د ډېرو ژبو د زدکړې په لړ کې یې پښتو هم زدکړې ده.

د ۲۰۲۱ ام ع کال د نومبر پر اوه ویشتمه (۲۷ مه) نېټه په جرمني کې د افغانانو د یوې فرهنګي ټولنې (افغانیک) او په ډنمارک کې د فرهنګ ټولنې په ګډې مرستې سره، د ګڼو افغان فرهنګیانو په ګډون د مورنۍ ژبې د زده کړې، ستونزو او حلارو پیدا کولو په موخه یوه علمي غونډه جوړه شوې وه. غونډه پای ته نږدې وه چې د یو نوي میلمه د راتګ وویل شول. دا میلمه «Finn Vilhelm Thiesen» نومېده.

د فین تیسین د راتګ په خبرتیا کې وویل شول چې دی په څو ژبو خبرې کولای شي او په ختیځ کې یې ډېر وخت تېر کړی دی. فین تیسین په انګلیسي، الماني او فرانسوي ژبو او په لرغوني یونان، منځنۍ فارسي او سنسکرت کې هم تخصص لري او د دې ژبو ترڅنګ په اردو او پښتو باندې هم غږېدلی شو.

فین تیسین غونډې ته لنډه وینا واوروله او د مورنۍ ژبې پر ارزښت وغږېد او ځینې ستونزې یې په نښه کړې. د غونډې په پای کې، د غونډې ځینې ګډونوال د خبرو پوښتنو له پاره ور نږدې شول. ما ته یو بل داسې ډنمارکی (کلاوس فردیناند) را په زړه شو چې تر نن پورې یې د لیدلو ارمان زما په زړه کې پاتې

شو. زړه کې راتېر شول چې فين تيسين به ضرور ګورم چې لکه کلاوس فرديناند دا مې هم له لاسه ونوزي چې بيا به ارمان کوم. ډنمارکی اِتنوګراف، کلاوس ويلهيلم فرديناند د ۱۹۲۶ کال د اپريل په نولسمه (۱۹مه) نېټه، د ډنمارک د شيلند جزيرې په «هيه لوفس هولم» (Herlufsholm) نومي ځای کې زيږيدلی او د ۲۰۰۵ کال د جنورې په پنځمه (۵ مه) د ۷۸ کلونو په عمر مړ او د ډنمارک په آغوس نومي ښار کې خاورو ته سپارل شوی دی.

کلاوس په خپل هر سفر کې د افغانستان په بيلابيلو سيمو کې د پښتنو کوچيانو مېنو ته ورغلی دی، له نږدې يې د هغوی د دود او دستور ننداره کړې ده او د کوچيانو په مېنو کې ورسره ناست دی، هر څه يې ليدلي دي او بيا يې ثبت کړي دي؛ نو ځکه د کوچيانو په باب د ده ټول مالومات د اعتبار وړ ګڼل کېږي.

په ۲۰۰۷ ام کال کې خبر شوم کلاوس د ډنمارک په اغوس نومي ښار کې ژوند کوي، خو چې پوښتنه مې يې کوله سږي په ۲۰۰۵ ام کال مړ شوی و.

فين تيسين هم د اتيا کلو دی، ما ويل نه شي چې دی هم لکه کلاوس خدای مه کړه بې ديدنه او بې پېژندنې لاړ شي، نو زه (آصف بهاند) ورغلم په څنګ کې کېناستم او خبرې مې ورسره وکړې، موږ په پښتو ژبه مکالمه وکړه، دا زما او د ښاغلي فين تيسين تر منځ ډيالوګ څو جملې دي:



آصف بهاند: زما نوم اصف بهاند دی پخوا مې په کابل پوهنتون کې تدريس کاوه او اوس په ډنمارک کې ژوند کوم.

فين تيسين: ډېر ښه، زما نوم فين تيسين دی او اوس په ناروې کې ژوند کوم.

آصف بهاند: ويل کېږي چې تاسو په ايران کې زدکړې کړې دي او په څو ژبو خبرې کولای شئ، که لږ په دې باب معلومات راکړئ.

فین تیسین: هو، ما په تهران کې زدکړې کړې دي او فارسي ادبیات مې لوستي دي، پخوا په پنځه ویشت ژبو پوهېدم چې یوه په کې پښتو وه، خو اوس مې د زړبودۍ او صحي ستونزو په وجه ځینې ژبې هېرې شوې دي او اوس د پښتو ژبې په ګډون په پنځلس ژبو خبرې کولای شم.

اصف بهاند: پښتو مو چېرې له چا زده کړه؟

فین تیسین: ما په ناروې کې د مشهور پښتو پوه مارګنسترن شاګردي کړې ده او پښتو مې له هغه زده کړې ده او افغانستان ته مې سفر هم کړی دی.

په پای کې مې قلم او کاغذ په مخکې ورته کېښودل او هیله ورنه وکړه چې دلته په دې کاغذ باندې خپل نوم راته ولیکه. په داسې حال کې چې لاسونه یې رپېدل خپل بشپړ نوم راته ولیکه. دا یې د نوم د لیکلې بڼې عکس دی:




کله مې چې د همدې مقالې د بشپړلو په موخه د ښاغلي فین تیسین په بیوګرافي پسې لټه پیل کړه، ویکیپیډیا په ډنمارکي ژبه یو څه لنډ معلومات په مخکې راته کېښودل چې یوه برخه به یې دلته وړاندې کړم:

فین تیسین د ۱۹۴۱ ام میلادي کال د اګست پر څلورمه په کوپنهاګن کې زېږېدلی دی. فین ډنمارکی ـ ناروېژی تابعیت لري، د همدې له پاره ډنمارکی ـ ناروېژی عالم ګڼل کېږي، تیسین له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۹ کلونو پورې د ایران په تهران کې اوسېده او د تهران په پوهنتون کې یې د فارسي ادبیاتو په برخه کې زده کړې کولې. په انګلیسي، الماني او فرانسوي ژبو او په لرغوني یونان، منځنۍ فارسي او سنسکرت کې هم تخصص لري، فین تیسین په اوسني وخت کې یو ښه حافظ پېژندونکی ګڼل کېږي...»

تر ویکیپیډیا وروسته مې د خپلو خوندي کړوو معلوماتو زېرمې ته سر ورښکاره کړ، له نیکه مرغه چې د فین تیسین په باب مې په ۲۰۰۹ ام کال کې یو څه راخوندي کړي وو، هغه مې چې پرانستل که ګورم چې د بي بي سي پښتو هغه مرکه ده چې سپین تني په اومه ستدیو له فین تیسین سره د ۲۰۰۹ ام کال د جنوری پر اتمه نېټه کړې وه، د دې مرکې په مقدمه کې داسې لیکل شوي دي:

«فین تیسین د اومې سټوډیو مېلمه دی

فین تیسین په ۱۹٤۱ کال په ډانمارک کې زیږېدلی خو بیا په ۱۹۸۲ م کال د ناروې د اوسلو پوهنتون لخوا د اردو او فارسي ژبې د استاد په توګه وګمارل شو چې له هغې راهیسې په همدې هېواد کې مېشت دی.

نوموړی له څه باندې دوه نیمو لسیزو راهیسې د نړۍ او په تېره د اسیایي ژبو په زدکړه بوخت دی، چې په هغې کې فارسي اردو، بنګالي، ترکي، سنسکریت، پښتو، تامیل او تیلګو، روسي، ایتالوي، فرانسوي او د لرغوني یوناني او لاتین په ګډون ګڼې نورې ژبې ویلای شي.

دا پروګرام د دې ځای پر کېکاږلو سره اوریدلی شئ



[دا پروګرام ددې ځای پر کېکاږلو سره اوریدلی شئ]

ښاغلی تیسین نه یوازې دا چې په دې ژبو خبرې کولای شي

بلکه د دغه ژبو په ګرډود او تاریخي کلتوري اساس یې تر ډېره پوهاوی هم لري. نوموړی د فارسي ژبې د وتلي شاعر حافظ شیرازي متخصیص هم دی.

که له استاد فین تېسین څخه د هغه د ژوند او د ژبو د زدکړو په اړه پوښتنې لری نو د خپرونې پر مهال دغه شمیرې:

۰۰٤٤۲۰۷۸۳٦۰۳۳۱ ستډیو ته زنګ ووهی او د خپلو پوښتنو ځوابونه له استاد فین تېسین نه واورئ.
د پروګرام د نشر وخت د جمعې د ماښام اووه نیمې بجې.»

خو له بده مرغه چې له فین تیسین سره د اومې ستدیو غریزه بنه له لاسرسي وتلې ده.

په کوپنهاګن کې د مورنۍ ژبې په باب د علمي غونډې نه لنده موده وروسته د ښاغلي فین تیسین په باب دوو افغان فرهنګیانو د فین تیسن په باب خپل برداشتونه او خاطرات په ټولنیزو شبکو کې خپاره کړل:

**د ښاغلي یوسف هیواد دوست خپور شوی متن:**

«فینتیسن نومیالی ناروېژي ختیځ پېژندونکی

تېره اوونۍ په کوپنهاګن کې د افغانیک(Afghanic.e.V) په همت او په ډنمارک کې د فرهنګ ټولنې په همکارئ د مورنۍ ژبې د زده کړې د ارزښتونو په باب یوه علمي غونډه جوړه شوې وه چې د سویډن،جرمني،اطریش او یو شمېر نورو هېوادو د ځینو فرهنګي ټولنو استازو هم پکې برخه درلوده.

ما په دغه علمي غونده کې د ناروې له هېواد څخه مشهور ختیځ پېژندونکی ښاغلی (فینتیسن) هم ولید.۸۰کلن سپین ږیری دی .ډېر زهیر و خو دغې علمي غونډې ته څکه راغلی و چې له پښتو ژبې سره ځانګړې مینه لري.

ما او مېرمن فیضیه هوسا ورسره څو شېبې د زړه خواله وکړه .واقعا ستر علمي او فرهنګي شخصیت دی او باید د افغانستان علمي او فرهنګي کړۍ یې قدردانی ته ورودانګي

دی اصلا ایرانپوه دی .له ۱۹۷۷ز څخه تر ۱۹۷۹ز کال پورې یې د ایران د تهران په پوهنتون کې فارسي ادبیات ویلي دي .د حافظ دیوان یې په یادو یاد دی.

دی په هندي ،ترکي،فارسي،جرمني،فرانسوي،لیتواني،دنمارکي او پښتو ژبو خبرې کولای شي.
شل کاله مخکې د ناروې د مقاماتو د غوښتنې پر اساس په افغانستان کې د ناروې سرتېرو او افسرانو ته یې د پښتو ژبې درسونه ورکول.

د ښاغلي ډاکټر يحيي وردک په وينا اوس يې مغزي سکته کړي او لکه پخوا زياتې علمي بوختياوې نلري ښاغلي فينتيسن وويل چې دی اصلا د مشهور پښتو پېژندونکو مارگنسټرن شاګرد دی او له هغه يې ډېر څه زده کړي.

موږ ته ډېره په زړه پورې وه چې ښاغلي فينتيسن  ترپايه يې له موږ سره په پښتو ژبې خبرې کولې.
له پاک الله څخه ورته بشپړه روغتيا او اوږد ژوند غواړم.»

د ډاکټر فضل رحمن خو لنډې جملې:

«... د بېلابېلو ناستو په ترڅ کې يوه اونۍ له يو بله سره کاري او نظري تجربې سره شريکې کړې د پروژې هدف د مورنۍ ژبې زده کړه او وده ده، له بېلابېلو ليکوالو او د ژبې او ادبياتو په برخه کې له کار پوهانو سره هم حضوري او هم ان لاين بحثونه وشول له ناروژي پرفيسر سره چې ۲۶ ژبې يې زده دي، په پښتو هم بلد دی او په ۲۰۰۸ کال کې دافغان ولس کلتوري ټولنې ويانا کې يو کانفرانس ته رابللی وو، هم ليدنه وشوه.»

دغه راز په يو بل ځای کې د فين تيسين او د ده د ژبو د زدکړې په باب داسې راغلي دي:

«... او با بسیاری از زبان های هندواروپایی زنده و کهن آشناست و بیش از ۲۰ زبان را به خوبی می شناسد؛ ازجمله، علاوه بر زبان مادری (دانمارکی)، زبان های انگلیسی، فرانسوی، آلمانی، لاتین، یونانی کهن، سانسکریت، نروژی، سوئدی، اوستایی، فارسی باستان، پهلوی، فارسی، اردو، پنجابی، پشتو، ترکی استانبولی، تامیلی و تِلوگو را به خوبی می شناسد. با زبان های لیتوانیایی، ارمنی، عبری کهن، روسی، لهستانی و چندین زبان دیگر نیز آشنایی نسبی دارد.

تیسن سال ها در ترکیه، ایران، پاکستان، و هندوستان اقامت داشته و در دانشگاههای این کشورها به پژوهش، تحصیل، و تدریس مشغول بوده است...

تیسن، از جوانی، مطالعات خود را بر زبان شناسی، عروض، و ریشه شناسی زبان های هندواروپایی متمرکز کرده است. او در چندین سال اخیر، بیشترِ وقت خود را معطوف به تحقیق دربارۀ حافظ کرده است.»

فين تيسين داسې عالم شخصيت دی چې د خپل عمر ډېره برخه يې د اسيايي ادبياتو او ژبو زدکړې ته وقف کړې ده. ده د اسيايي ژبو په زدکړې باندې يې دومره زحمت ايستلی دی چې ځان يې د همدې ژبو د مدرس کچې ته رسولی دی او ډېره موده په پوهنتون کې د اردو او فارسي ژبو استاد هم پاتې شوی دی.

د ګڼو نورو ژبو تر څنګه يې پښتو هم زدکړې ده، له ماسره چې په پښتو ژبه غږېده، نو مسکی ـ موسکی کېده او پښتو يې داسې شمېرلې ـ شمېرلې په احتياط سره تلفظ کوله او لغتونه يې تر خولې رااېستل لکه له خزانې څخه چې په حساب د سرو زرو يا الماسو دانې راوباسي.

## د فين تيسين د ښې روغتيا او اوږد عمر په هيله!

www.dawatmedia24.com